د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د جنوب غرب زون د تميز عالي رياست د محترمو علماء کرامو لخوا د (ديوان جزاء، ديوان مدني او ديوان امنيت عامه) د موضوعاتو او صلاحيتونو د تعين په موخه جدول ترتيب شوی چې بيا وروسته د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته د ملاحظې لپاره وړاندې شو د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا د حکم مورخ(رمضان المبارک/۱۴۴۳هق) په اساس تائيد او منظور سو.

يورته ذکر شوی جدول د (جنوب غرب زون د تميز عالي رياست او د ستري محکمې د قضائي معاونيت) لخوا د مکتوب نمبر (۶۰۲) مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۱۵هق په توسط د ديوانونو محترمو منسوبينو ته استول شوی دی.

د ستري محکمې د محترم مقام د هدايت په اساس نوموړی جدول چې د (جنوب غرب زون د تميز عالي رياست او د ستري محکمې د قضائي معاونيت) په مکتوب نمبر (۶۰۲)مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۱۵هق کې درج دی، جنساً د دې متحدالمآل مل د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې تميزونو، ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محاکمو ته واستول شو تر څو د ضرورت په وخت کې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې تر سره شي.

يادونه.په پورته ذکر شوي جدول کې د درو(۳) ديوانونو لپاره موضوعات تعين شوي دي، د پاته ديوانونو لپاره او د پاته موضوعاتو د تعين په باره کې د ستري محکمې د مرکزي تميز د رئيس صاحب په مشرۍ.د ستري محکمې د مرکزي ديوانونو د رئيسانو صاحبانو لخوا جدول ترتيب شوی چې د ستري محکمې د عالي شورا تر تصويب او د مشرتابه محترم عالي مقام تر تائيد وروسته به د دې متحدالمآل په تعقيب تاسو ته واستول شي.

په درنښت

۱۲ ۱۱ ۱۴۴۳هق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"
د ستري محکمې
د دارالانشاء رئيس